حفیظ ملیار

۲۰ مارچ ۲۰۱۰

# نوی کال او د حجران زخمون

## څلوریزه

## سپــرلی شـــو

سپرلی شو ونې شنې شوې دښتې شنې شوې
بلبلان په چیـغـو سر شول او نغمې شوې
ای حـفـیـظ مـلـیاره کاشکې حجـران نـه وای
تانـه پاتــې د نــوروځ هـغـه مـیـلـې شوې

ای ساقي

ای ساقي شراب د نشته کنډولی به د زه څه کړم
چې ګلان هغه کې نه وي دا سپرلی به د زه څه کړم
روغ بدن مې ستا ونه لید ای حفیظ ملیاره ولې
پرهارونو ځینې ډک دی دا زړګی به د زه څه کړم

مالیاره

مالیاره ګلان راوړه دا زخمي زړونه خوشحال کړه
موسم د سپرلي دی مونږ د سیالو سره سیال کړه
غاټول ګلونه راوړه چمنون رنګیني کړه
وړمې د سحر راوړه هرې خواته يې خورې کړه
د پیغلو له ټیکریو شارې دښتې زمونږ شنې کړه
قالینې پکښې پرش کړه له غاټول يې تکې سرې کړه
د پیغلو په مسکا کې د ګدر جوړې میلې کړه
عطرونو د ګلانو ځینې جوړې فوارې کړه
د ګلشن بلبل خفه دی په نغمو يې چغهار کړه
مالیاره ګلان راوړه دا زخمي زړون خوشحال کړه

مالیا ره زمونږ پیغلې د نارنج ګلونه غواړي
مجنون د لیلا غاړې ته د ګل هارونه غواړي
دا د ښتې له شپونکې نه د شپیلی غږونه غواړي
یتیم د مور او پلار د غیږې تې وختونه غواړي
زخمي زخمي ګلونه د زخمو ټپونه غواړي
مطرب د رباب جشن ته د عشق شعرون غواړي

حفیظ ملیار درجارشه راته خوښ مو نوی کال کړه
مالیاره ګلان راوړه د ازخمي زړونه خوشحال کړه

حفیظ ملیار
ویانا د اتریش ښار


افغان جرمن آنلاین شما را صمیمانه به همکاری دعوت می نماید. لطفاً به آدرس ذیل با ما تماس بگیرید maqalat@afghan-german.de
نوت: مسئولیت املایی و انشایی نوشته ها به دوش خود نویسنده میباشد، خواهشمندیم مطلب خود را بعد از غور کامل بما ارسال بدارید.